# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## نوزيبيلې او درې ويښتان

Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# نوزيبيلې او درې ويښتان



Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
3
پښتو ps



په ډېر پخوا زمانو کې درې نجونې د لرګیو را ټولولو لپاره دباندې ووتلې.



دا چې ورځ ګرمه وه، نو دوی د کلي لاندې
سیند ته ولاړې، چې ولامبي. دوی د اوبو منځ
کې لمبلې او لوبې کولې.





وروسته سپی پوه شو چې نوزیبیلې هغه سره
چالاکې کړې ده. نو تر کلي پورې په منډه منډه
راغئ. مګر د نوزیبیلې ورور له غټې لرګي سره
په تمه ولاړ و، سپي چې د نوزیبیلې ورور
ولید، بېرته وګرځېد او لرې ولاړ. نور تر اوسه لا
لیدل شوی نه دی.



ناڅاپه د دوی فکر ته راغلل، چې ناوخته دی نو
په چټکۍ سره بیرته د کلي په لور روانې شوې.





کله چې سپی راغئ، نو نوزېبېلې یې لټوله او
غږ یې وکړ: نوزېبېلې، چېرته یې؟ لومړني
ویښته وویل، زه دلته یم د کټ لاندې، دوهم
وویل زه دلته یم د ور شا ته، دریم وویل زه
دلته یم په جونګړه (کلبه) کې.



هغوی کور ته نږدې شوې وې چې نوزيبيلې خپل لاس پر خپلې غاړې کېښود، او ګورې چې خپله غاړه کې يې هېره کړې ده. هغې خپلې ملګرو ته وويل: هيله کوم له ما سره راشئ! خو هغوی وويل:" ډېره ناوخته ده".





څنګه چې سپی ووته، نوزيبيلې د خپل سر څخه درې ويښتان را واخستل. هغې يو ويښته د کټ لاندې کېښود، يو يې د ور تر شا کېښود او يو يې په جونګړه (کلبه) کې کېښوده، او په ډېره چټکۍ سره خپل کورته په منډې ولاړه.



نو نوزېبېلې سیند ته یوازې ولاړه، خیله غاړه
کې یې پیدا کړه او په چټکۍ سره د کور په لور
روانه وه چې په تیارو کې ورکه شوه.





هره ورځ نوزېبېلې مجبوره وه چې خواړه پاخه
کړي، جارو وکړي او د سپي لپاره جامې
ومینځي. بلاخره یوه ورځ سپی ووېل:
نوزېبېلې، زه نن د ملګرو لیدو ته ځم. مخکې
له دې چې زه بېرته راشم، کور جارو کړه، خواړه
پاخه کړه او زما کالي ومینځه.



په لاره کې یې یوه روښنايي ولیده چې له یوه
کوچني کور څخه راوځي. هغې(نوزیبیلې) د
روښنايي په لور ورغله. یوه دروازه یې ومندله
او ویې ټکوله.






وروسته سیې وویل: زما لپاره د خوب ځای
تیار کړه! نوزیبیلې ځواب ورکړ، ما د سیې
لپاره هېڅکله د خوب ځای نه دی تیار کړی.
سیې وویل: ځای تیاروې یا ودې خورم! نو
نوزیبیلې د خوب ځای هم تیار کړ.



عجیبه دا وه چې د نوزیبېلې لپاره یو سپی ور خلاص کړ او ویې ویل: ته څه غواړې؟ نوزیبېلې وویل: زه ورکه شوې یم او د خوب لپاره ځای ته اړتیا لرم. سپي وویل: دننه راشه، کنه خورم دې! نو نوزیبېلې دننه ورغله.





وروسته سپي وویل: زما لپاره خواړه پاخه کړه! هغې وویل: مګر ما د سپي لپاره هېڅکله پخلی نه دی کړی. سپي وویل: پخوې یې یا ودې خورم! نو نوزیبېلې د سپي لپاره خواړه چمتو کړل.